# افغانستان

دافغانستان اساسی قانون وایی (اسلام ددولت دین دی). او (هیڅ ډول قانون به داسلام دمقدس دین له عقایدو او اصولوسره مغایر نه وي). په 2004 م کال کی اساسی قانون شیعه او سنی مذاهب په برابره توگه قبول کړل. اساسی قانون اعلاموي چې ( دنورو ادیانو خلک ازادي لري چی په خپله عقیده عمل وکړي او خپل دینی مراسم دقانون دمقرراتوسره سم اجراکاندی).

ددغه راپورلیکلو په دوران کې د ددین دازادئ لپاره درناوی مخ په زوال و، په خاصه توگه دعیسوي ډلو او افرادو لپاره. دکلونو کلونو جهاد نه پاتی اغیزې، چی د پخوانی شوروي اتحاد خلاف و، مدنی شخړې، دطالبانو حکومت، دخلکو سره په عمومی ډول دا شک شته چې خارجی اغیزی موجودې دي، دخارجیانو داهدافو او مقاصدو په برخه کې شک اوبدگومانی او لاتراوسه پورې کمزوري دیموکراتیک موسسات د مذهبی ا زادیو په مقابل کې د غټو خندونو په څیرپاتې دي. د خلکو د ځورولو پیښې، کله ناکله د تشدد پیښی او د پارلمان دغړیو له خوا پاروونکي ویناگانی، دتلویزیون پروگرامونه دمذهبی لږکیو په برخه کې په خاصه توگه دعیسویانو او د هغو مسلمانانو، چې داسی تصور کیږی چې هغوی د اسلام حدودو ته درناوی نلري، دهغوی د ځورولو اوکړولومثالونه شته دي. دعیسویانو د فعالیتونو په برخه کې شکونه اومنفی تولنیزنظریات ددې سبب شول چې دعیسویانو ډلی او افراد په نښه کړی شي .

په افرادو کې، هغه افغانان هم په نښه کوي چی له اسلام نه عیسویت ته اوښتي وی. ددې کار په وړاندې د حکومت له خوا د اقداماتونشتوالی، او ددغو ډلو او افرادو لپاره دحفاظت نشتوالی، ددی سبب شویدی چې دینی ازادي نوره هم پسی خرابه او مخ په زوال شي.

د ۲۰۰۹ میلادی کال د جولای په میاشت کې، جمهوررئیس کرزي دشیعه گانو لپاره د شخصی حالاتو اودریځ قانون لاسلیک کړ. داهغه مدنی قانون دی چی دشیعه اقلیت لپاره دکورنی د چارو او واده دمسایلو په برخه کې قوانین اومقررات لري. په اساسی قانون کې دشیعه اقلیت داحق منل شویدی چې شخصی اوکورني مسایل دخپل مذهب د فقهي پربنا حل کاندي. ددغه قانون پر اولی مسودې باندی ډیر پراخه انتقادونه وشول، ځکه چې دښځو پرحقوقوباندی یې ډیر محدودیتونه لگولي وو. دافغانستان دعدلیې وزارت په دغه قانون کې اصلاحات اوتعدیلات راوستل چې هغه ډیر جنجالی مسایل ترینه وباسي. جمهوررئیس کرزي هغه اصلاح شوی قانون لاسلیک کړ چې په رسمی جریده کې خپور شوی و.

ددغه هیواد ټول نفوس تقریبا مسلمانان دي. غیراسلامی ډلی په خاصه توگه عیسویان، هندوان، او سکهان دتوپیري سلوک او ځورولو ښکار وو. له اسلام نه اووښتل د شیعه او سنی اسلامی عالمانو په نظر باندی له اسلامی عقایدو نه د تخلف معنا لرله. دمسلمانانو ترمنځ هم د مختلفو مذهبی فرقوترمنځ اړیکی له ستونزو سره مخ وی. په تاریخی لحاظ شیعه گان، د سنی اکثریت له خوا د توپیری سلوک سره مخ شویدی. ددغه رپوټ د لیکلو په دوران کې هم دهغوی خلاف تبعیض دوام درلود. ځایي هندوان اوسکهان، که څه هم دا اجازه لري چې په خپل مذهب باندی په عام محضرکې هم عمل وکاندي خوپه دی وجه له ستونزو سره مخامخیدل چې د هندوانو دمړو د سوځولو لپاره زمکه لاسته راوړي. د حکومتی وظایفو په لاسته راوړلو کی هم له توپیري سلوک سره مخامخیدل. دغټو مراسمو په لمانځلو کې به هم له ځورونو او کړاو سره مخامخیدل. زیاتره بهائیان او عیسویان په ښکاره باندی د خپلې عقیدې اظهار نه کوي او همدارنگه د عبادت لپاره په ښکاره نه راټولیږي.

دامریکا حکومت په منظم ډول د مذهبی ازادئ په برخه کې د حکومت له چارواکیو سره بحث کوي چې دعمومی پالیسی دیوې برخی په توگه بشری حقوق پرمخ بوزی. دامریکا سفارت په افغانستان کې دیوه پروگرام له لاری دیته ا دامه ورکوی چې سیاسی ، مدنی او مذهبی مشران په امریکا کې یو لږ پروگرامونو ته ولیږي. د ولایتی بیارغوني یو شمیر ډلو یا (PRTs) له ټولنی سره مرستی کړیدی. هغوی دغه مرستی د امریکا د نظامی قوماندانانو د عاجل ځواب د پروگرام له لاری کړیدی. په دغه لړکې هغوی مدرسې ترمیم کړیدي.

**اول ځپرکی : مذهبی نفوس شمېرنه**

افغانستان 402 زره او 356 مربع مېله مساحت لري. دنفوس ا ټکل يې د 24 نه تر 33 ملېونو پورې کېږي. باوري نفوس شمېرنه او ارقام په لاس کې نشته دي، ځکه چې رسمی نفوس شمېرنه په تېروڅولسېزوکې نده شوې. کټونکي اټکل کوي چې دافغانستان دنفوس 80 فېصده سنی مسلمانان دي. په دې کې ۱۹ فېصده شېعه ګان دی. دنورو مذهبی ډلو خلک، دنفوس له يو فېصد نه هم کم دی. دغو ټولنود خپل اټکل له مخی وېلی دی چې په افغانستان کې تقريبا 3000 زره سکهان ، تر 400 نه زيات بهائيان، او سل تنه هندوان موجوددی. دعيسويانو يوه وړه ټولنه هم شته ده . دهغوی شمېر داټکل له مخی له 500 نه تر 8000 زروپورې رسېږي. پردی سر بېره دنورواديانو لږ شمېر پيروان هم پکې شته دي. يو پېژندل شوی افغان يهود هم شته دی.

په دودېز ډول اسلام په افغانستان کې حاکم او مسلط دين دی، په خاصه توګه سنی مسلمانان چې د حنفي فقهي پيروان دي. دتېرو دوه سوه کلونو لپاره دسنی مسلمانانو زياته برخه د حنفي فقهي هغه برخه منله چې ددېوبند تراغېزولاندی وه. ددېوبند دارالعلوم يا دلوړومذهبی زده کړو مدرسه په دېوبند کې دآسيا يوډېر مشهور تعليمی مرکز ګڼل کېږی. دافغانستان ډېرو سنی عالمانو يا ددېوبند په دارالعلوم کې تعليم کړېدی ا و يادهغو علماو په واسطه روزل شوېدی چې هغوی ددېوبند له دارالعلوم نه فارغ شوی دی. د يادولو وړ يو اقليت داسلام په روحانی برخه يا تصوف باندی عقېده لري او پيروی يې کوي. تصوف په يو ځو طريقو باندی وېشل شوېدی او سنيان ا و شېعه دواړه دېوشمېر ډېرو هوښيارو مشرانو پيروی کوي.

په شلمه پېړۍ کې د وهابي فقهي اسلام په يو شمېر سېمو کې رابج شو. له تاريخی پلوه، دېوه خاص دين او مذهب پيروان په ځېنی خاصو سېمو کې سره راټول شوېدی. سنی مسلمانان او پښتانه دهېواد په جنوب اوختيځو برخو کې سره راټول شوېدی. شېعه ګان په هز اره جات کې ډېردي. دايوه غرنی سېمه ده او دباميان ولايت شاو خوا علاقی تشکيلوي. په شمالی سېمو کې په عنعنوی ډول اسمعېلييان پراته دی. نوری سېمې د کابل په شمول، ګڼ نفوس لري چې په هغو کې سنيان، شېعه ګان، سکهان، هندوان، او يوشمېر بهائيان ژوند کوی. دمزار شريف په ښار کې چې دهېواد په شمال کې پروت دی؛ ډېر ګډ خلک لکه سنيان، او شېعه ګان پکې اوسېږي. په سنيانو کې پښتانه، ترکمنان، ازبکان، اوتاجک شامل دی. په شېعه ګانو کې هزاره ګان، قزلباشان، او اسمعيلی شېعه شامل دی.

په شلمه پېړۍ کې د بهائيانو، بوداپانو، عيسويانو، هندوانو، يهودانو اوسکهانو وړې ټولنی په دغه هېواد کې اوسېدلې. که څه هم ددغو ټولنو زياتو کسانو د کورنی جنګ ا و طالبانو د حکومت په زمانه کې نورو ملکونو ته مهاجرت وکړ. د طالبانو د حکومت په آخر کې د غېرمسلمانانو نفوس تقريبا له منځه وړل شوی و، يوازې د ځايی هندوانو اوسکهانو کوچنی ټولنی پاتې وې. د طالبانو له سقوط نه وروسته د مذهبی اقليتونو ځېنی افراد بېرته خپل هېواد ته راګرځېدلی دی او زياتره يې په کابل کې ځای په ځای شوېدي.

نورستانيان ډېره وړه ډله ده خو د ژبی او نژاد په لحاظ ډېره مشخصه ډله خلک دی. هغوی په ختيځه غرنی سېمه کې اوسېږي او دخپل لرغونی دين چې په توحيد بنا نه و، پيروی کوله. وروسته بيا د ۱۹می پېړۍ په آخرو کې له خپل زاړه دين نه واووښتل او مسلمانان شول. دهغوی بولږ غېراسلامی اعمال ترننه پورې هم د ثقافت اودود دستور په نامه ژوندي پاتې دي. په کابل کې د سکهانو دوه فعالی ګوردواری يا معابد موجود دي. دافغانستان په نورو برخو کې لس ګوردواري، موجودې دي. له جګړی نه مخکی په ټول هېوادکی ٦٤ ګوردواری موجودی وی. په دری ښارونو کې د هندوانو څلور مندرونه يا درمسالونه شته دی. دوه مندرونه په کابل کې واقع دی. دېوه مندر دېوال له يوه جومات سره شرېک دی. بل په

جلال ا باد کې دی. پوبل د غزنی په ولاېت کې دی. دمجاهدېنو د کورنې جنګ په زمانه کې دهندوانو اتلس مندرونه لوټ اوخراب شول او اوس له کاره غورځېدلي دي.

دېهودانوپوه کنېسه یا سینا ګاګ هم موجوددی خو څرنګه چې هلته ا وس یهودان نشته دی نو هغه هم له استعمال نه غورځېدلی دی. دعېسویانو ښکاره او عمومی کلیسا نشته ده . محکمې هغه ادعا ونه منله چې یو ې کلیسا وېل د ۹۹ کلونو لپاره یې داځای په کرایه نیولی و. د زمکی خاوند د ۲۰۱۰ مېلادی کال د مارچ په میاشت کې دکلېسا ودانی ورانه کړله. دنړېوالی ټولنی د خلکو لپاره کلیساګانې په ځو نظامی ا ډو او د PRTs د ډلو په دفترونو او دایټالیا په سفارت کې شته دی. یوشمېر اتباع چې دمهاجرېنو په توګه عیسویان شوی وو هغوی بېرته راستانه شوېدی.

دبهایی عقېدې هم په دغه هېواد کې تقرېبا د ۱۵۰ کلونونه را په دې خوا یوشمېر پېروان لرل. دغه خلک زیاتره په کابل کې دېره دی. په کابل کې تقرېبا درې سوه بهائیان اوسېږي. تقرېبا سل تنه نور د هېواد په نورو برخو کې اوسېږي.

**دوېم څېرکی**

**ددېنې آزادئ حالت : دقانونې پالېسی چوکاټ**

د ۲۰۰۴ م کال داساسی قانون د تعمېلولو ستونزه ادامه لري، ځکه چې تقرېبا متضاد تعهدات لری اوله بل پلوه په عنعنوی ډول، داساسی قانون د تعمېل قضایی کتنه اوڅېړنه نشته ده.

په اساسی قانون کې دا واک او صلاحېت شامل دی چې د بشري حقوقو دنړېوالی اعلامېې سره به سم عمل کوي او پردولت باندی دا لازموي چې یوه سوکاله او پرمختللی ټولنه چې بنسټ یې پر ټولنېز عدالت ایښودل شوي وي، جوړه کړي، بشري وقار اوانسانی کرامت خوندی وساتي، بشری حقوقو خوندی وساتي ، دېموکراسی ومنی ؛ د ملی وحدت موجودېت تامېن کړي. دټولو قومونو اوقبیلو ترمینځ برابری منځته راولي. (... دنوروعقاېدو پېروان دا آزادی لري چې په خپلو عقاېدو عمل وکړی او خپل دېنی مراسم اجرا کاندی، خود قانون په دایره کې او د قانون له شرایطوسره سم).

اساسی قانون دالازموي چې جمهوررئېس او د جمهوررئېس مرستیال مسلمانان وي ا و په دې برخه کې د شیعه او سنی ترمنځ توپیر نه کوي. د قانون دغه ماده په صراحت باندی دحکومت پرنورو زېرانو او یا د پارلمان پر غړېو نده تطبیق شوی. خو دهغوی ټولو د سوګند په مراسمو کې په دې مسله باندی سوګند خوړل شامل دی چې د اسلام اساساتوته به مطیع او وفادار وي.

په اساسی قانون کې داهم اعلام شویدي چې اسلام د دولت رسمی دېن دی. اوهېڅ یو قانون به دعقېدی داصولواو داسلام د مقدس دېن سره تضادنه لری. داسلام د مقدس دېن د بنیادی اصولو تابعېت کول اود اسلامی جمهورېت د رژېم بنیادی اصول نشی تعدېل کېدلی. په هغو حالاتوکې چې اساسی قانون او د جنایی قانون ښکاره حکم نلری چې په دې کې له اسلام نه اووښتل او مقدساتوتوهېن شامل دی، په دغه راز مواردو کې محاکم داسلامی قانون په تعبېر او تفسېر اتکا کوی. دهغوی یولړ تعبېرونه د بشرد حقوقو د اعلامېې سره په تضاد کې واقع دي. خو له بل پلوه اساسی قانون حکومت په دې مکلفوي چې د بشري حقوقود نړېوالی اعلامېې پراصولو عمل وکړی، دغه اعلامېه افغانستان لاسلیک کړېده. په اساسی قانون کې وېل شوېدی چې که په اساسی قانون کې کومه ماده نه وی او یا په نورو قوانېنو کې لاربښوونه نه وي چې حکم وکړي نود محاکمو فېصلې باېد له حنفي فقهې سره سمې وی. په داسی ډول چې عدالت په بهترېن ډول تامېن شي. اساسی قانون ددې اجازه هم ورکړېده چې په شخصی مسایلو کې دشیعه قانون هم عملی کېدلی شی، که د قضېې ټولی خواوې شیعه وي. دغېر مسلمانانو لپاره په دې برخه کې جلا قانون نشته چې پرې عملی شي.

د ۲۰۰۹ مېلادی د جولای په مېاشت کې جمهوررئېس د شېعه ګانو لپاره د شخصی حالاتو اودرېځ قانون SPSL لاسوهلی او تعدېل شوی مسوده لاسلېک کړله . جمهوررئېس کرزی د دغه قانون اولنی مسوده د ۲۰۰۹ مېلادی کال د اپرېل په مېاشت کې لاسلېک کړی وه. بوشمېر مشهورو شېعه ګانو ددې قانون ملاتړ وکړ ځکه چې د اول ځل لپاره د شېعه ګانو فقهه په رسمېت پېژندل شوی وه. بوشمېر شېعه ډلو هم د دغه قانون ستاېنه وکړله ځکه چې دشېعه اقلېت بې په رسمېت پېژندلی و. که څه هم دا پرېل په مېاشت کې لاسلېک شوی قانون کې اختلافات او جنجالونه هم په کورنی لحاظ او هم په نړېوال لحاظ موجود وو، اختلافات له دې ادعا نه راولاړشوی وو چې دا قانون د ښځود حقوقو په خوندی کولو کې ناکام شوېدی. په خاصه توګه دا ټکی چه ښځې د خاوند له خوا په زور د جنسی تسکېن نه ځانونه نشی خوندی کولی. کله چې د ۲۰۰۹ مېلادی کال په نېمايی کې کتنه وشوه نو د عدلېې وزارت بوشمېر جنجالی مادی د قانون له اصلی مسودی نه وښکلی. دافغانستان جمهوررئېس حامد کرزي دغه تعدېل شوی مسوده د جولای په مېاشت کې لاسلېک کړله، له دېنه وروسته بيا دغې تعدېل شوی مسودی د قانون بڼه غوره کړله.

ډېرو کتونکو په هېواد کې دننه او له هېواد نه بهر ددغه قانون پر هغو جنجالی مادو باندی خپل اعتراض ته دوام ورکړچې دښځوله هغو حقوقو سره اختلاف لري چې په اساسی قانون کې ورکړل شوېدی. او د نړېوال بشری حقوقو داعلامېو او کنوانسېونونو سره تضاد لری. افغانستان دغه نړېوال قوانېن لاسلېک کړېدی. هغه مادی چې د اندېښنی وړوی هغه په خاصه توګه دواده له حد اقل عمر سره تړاو لري. د څو ښځو کول، دمېراث حقوق، د ځان په هکله د فېصلی کولو حق ، د نقل او حرکت آزادی، جنسی مسوولېتونه او د کفالت مسلی پکی شامل دی. له اسلام نه اووښتل ارتداد ګڼل کېږي او جزای داسلام د بو لړ تعبېرونو اوقوانېنو له مخی مرګ ده. جنايی قانون ارتداد د بو جرم په توګه ندی تعرېف کړی. اساسی قانون هره هغه جزا ممنوع ګرځولی ده چې په جزايي قانون کې ورته تعرېف او حدود نشته دی. که څه هم جنايی قانون وايی چې ډېر فاحش جرابم چې په هغو کې ارتداد هم شامل دی، دهغو سزا به د حنفی فقهې سره سمه ورکړل شی او د لوی څارنوال ددفتر له خوا به بې څارنه وشی. له اسلام نه بل دېن ته اوښتل ډېر فاحش جرم بلل شوېدی. په همدی اساس داسلامی قانون ترحدودو لاندی راځی. نارېنه اتباع چې اتلس کلن وي ا وښځېنه اتباع چې ١٦ کلنی وي، او عاقلان او عاقلانی وي، که چېرې هغوی له اسلام نه بل دېن ته واوړي،هغوی دری ورځی وخت لري چې په رسمی ډول له خپل عمل نه تېرشی او خپلی خطا باندی اعتراف وکړی، که نه نو د مرګ سزابه بې په سنګسار باندی وی او د خپلی دارايی او جاېداد لرلو له حق نه محرومېږی. واده اونکاح بې غېرقانونی کېږی.

په دې نېژدې کلونو کې نه په ملی سطحه اونه په ځايی سطحه چارواکو پرهغو کسانو باندی چې له دېن نه اووښتي وی جزايی قانون ندی تطبېق کړی. مقدساتوته توهېن داسلامی قانون دځېنی تعبېرونو له مخی، په افغانستان کې د مرګ سزا لري. ددغو تعبېرونو له مخی، که چېری بو اتلس کلن عاقل نارېنه او يا ١٦ کلنه عاقله ښځېنه، مقدساتوته توهېن وکړی، اسلامی قاضی د دې په مقابل کې د مرګ سزا ورکولی شی. پرهغو کسانو چې د مقدساتو د توهېن تور لګېدلی دی هغوی ته دری ورځی ورکول کېږی چې خپل عمل تکذېب کړی او که نه له مرګ سره به مخ شي. په دې نېژدی کلونو کې په دې سزا باندی عمل شوېدی.

دستری محکمی د فتوی او فرامېنو رياست، د ۲۰۰۷ مېلادی کال مې په مېاشت کې حکم وکړ چه دبهايي فرقي خلک له اسلام نه وتلي دي او دغه عقېده د کفر بوډول دی. محکمی حکم وکړ چې ټول هغه مسلمانان چې بهائېت بې قبول کړی وي هغوی له دېن نه اوښتي او مرتد دی؛ د بهايی عقېدی ټول پېروان کافران دی. هغه بهائېان چې داسلام دعقېدی اعلامېه بې قبوله کړی وه له هغوی نه توقع نه کېدله چې دا حکم پرې تطبېق شی. دغه حکم د بهايی فرقي اقلېت ته بو غېرېقېنی او نامعلوم حالت منځته راووست. په خاصه توګه د واده په مسله کې چې د بوې بهايی ښځې او مسلمان نارېنه ترمنځ وی. هغه اتباع چې له اسلام نه بهائېت ته اووښتي ووهغوی د تعقېب له خطر سره مخ شول، هماغسی چه لکه عېسوېت ته چې اووښتي وی، ددی په مقابل کې ترمرګ پورې سزا شامله وه. دا مسله هم نامعلومه وه چې حکومت به دبهائېانو له دوېم نسل سره څه ډول سلوک وکړي. يعنی هغه کسان چې له بهايی مور اوپلارنه پېدا شوي وي. که څه هم هغوی اصلا په خپله ندی اووښتي بو شمېر خلک به بې داسی وګڼی چې هغوی کافردي او دېن ته بې توهېن کړی دی. داتوقع نه وه چې په دغه حکم

دی هغه بهائیان شامل وی چې دافغانستان اتباع ندی. دحکومت د چارواکېو د وینا له مخی ، که څه هم محکمه دافغانستان ټول اتباع په طبیعی ډول مسلمانان بولي؛ عملا غیرمسلمانان واده کولی شی خو چې په ښکاره دخپلي غیر اسلامی عقیدی په باب څه ونه وایي. پردی سر بیره قاضی ووېل چې یو مسلمان یوه غیر مسلمانه ښځه کولی شی خو که چیرې ښځه داهل کتاب له جملی ( یعنی یا عیسوی او یا یهوده نه وی) نو اول باید اسلام ته راواوړی. پردی سر بیره ښځې ته ا جازه نشته چې له یوه غیر مسلمان سره واده وکړي.

یوازې اسلامی ورځی د عمومی رخصتیوپه توګه لمانځل کیږی. د شیعه ګانو له خوانه د حضرت علی د زیږیدو ورځ په ښکاره توګه لمانځل کیدله. امام علی د شیعه فرقې له نظره یو له ډیرو محترمو اشخاصو څخه شمیرل کیږی. دشیعه ګانو د رخصتیو لمانځل لکه عاشورا چې په جنوری کې ده او د ۲۰۰۹ کال په ډیسمبر کې په پراخه اوسوله ئیز ډول په ټول شمالی، مرکزی سیمو او همدارنګه کندهار کې لمانځل کیږی. حکومت د موجود جنایی او مدنی قوانینو د تعدیل او تجدید کولو چارو ته دوام ورکوی چې د حکومت د نړیوالو تعهدانو له مسوولیتونو سره اړخ ولګوی.

د ۱۹۷۶ میلاد ی کال جزایي قانون د دین خلاف د جرایمو دارتکاب په برخه کې دي. که څه هم د کفری کلماتو او مقدساتوته د توهین په برخه کې څه نه وایی. جزایی قانون داهم وایی چې هغه اشخاص چې په زور د مذهبی عقایدو مراسمو دهردین چه وي بند کړی، او هغه اشخاص چې دعبادت هغه ځایونه یا خراب کړی او یا زیان ور واړوي په کومو کې چې مذهبی مراسم اداکیږي؛ او یا هغه نښی او سمبولونه وران کړی یا زیان ور ورسوی چې له کوم دین سره تړاو ولري هغوی به د قید سزا ووینی ( په جزایی قانون کې تعریف شویده چې د قید سزا به له یوکال نه کمه اوله پنځو کلونو نه به زیاته نه وی) یا به هغوی نقدي ناغه ( جریمه) ورکوي چې د ۲۴۰ امریکایی ډالرو نه نیولی تر ۱۲۰۰ډالرو پورې رسیږی ( دافغانستان په اوسنیو افغانیو له ۱۲۰۰ نه نیولی تر ٦۰ زرو پورې رسیږي). په جنایي قانون کې د لیکلي او وینا د توهین په باب او یا د خداې تعالی، دین او سپیڅلو سمبولونو او دینی کتابونو، په هکله د بی حرمتی د الفاظو په باب څه نشته دی.

دمطبوعاتوقانون داسلام نه پرته د بل دین تشهیر او تبلیغ منع کوی. ډیر چارواکي او د ټولنی زیاتره برخه دتازه دین لپاره د خلکو اړول داسلامی عقایدو سره منافی بولي. په دې برخه کی نا تایید شوي رپوټونه شته دی چې د هغو عیسویانو په وړاندې چې فکر کیږی خلک له دین نه اړوی، له تهدید او ویرونی نه کاراخیستل شویدی. یوشمیر عیسویان له دینه ځان ساتی چې د دوی په باب داسی فکر ونشی چې خپل دین د افغانی ټولنی غتی برخی ته خپروي.

اساسی قانون د بیان دازادئ اومطبوعاتو ساتنه کوي. د ډله ئیزو رسنیو قانون چې د دین او بیا ن دازادئ په برخه کې په کی منفی مادی شته دی، د ۲۰۰۹ میلادي کال په رسمی جریده کې د سپتمبر په میاشت کې خپور شو. د ۲۰۰۸م کال د سپتمبر په رایو کې پارلمان د ښاغلی کرزي د هغې ویټو خلاف رایې ورکړلی چې هغه په ۲۰۰۷ میلاد ی کې قانون ویټو کړی و.

دمطبوعاتو د قانون د لسمی مادي په برخه کې ویل شویدی ( هغه مواد چې تولیدول، چاپول، خپرول او دراډیواو تلویزیون له لاری یې نشرول ممنوع شویدي). ددغه قانون ۴۵ مه ماده د دغو موادو، تولیدول، بیا نشرول، چاپول ممنو ع کوی: هغه اثر او مواد چې داسلام د بنیادی اصولو سره مغایرت لری؛ هغه آثاراو مواد چې په نورو ادیانو ا و فرقو تیری کوی؛ هغه آثاراو مواد چې عامو اشخاصو او یا قانونی اشخاصو په برخه کې توهین آمیزه او تیري کوونکی وي؛ هغه آثاراو مواد چې د عامو اشخاصو او یا قانونی اشخاصو په برخه کې افترا کوي، او ددی سبب کیږي چې دهغوی شخصیت ته تاوان ورسیږی او یایې اعتبار ته تاوان رسوی. هغه آثاراو مواد چې له اساسی قانون سره مغایرت لری او د جزایی قانون له مخی جرم ګڼل کیږی؛ هغه له اسلام نه پرته دنورو ادیانو دموادوخپرول او تبلیغ کول دی. د زنا بالجبر او تشدد د قربانیانو دعکسونو خپرول ، دهغوی دهویت خپرول چې دهغوی شخصی او ټولنیز وقارته پکې زیان رسیږي. هغه مقالی او مضامین چې داشخاصو په خاصه توګه د ماشومانو او تنکیو ځوانانو بدنی روحی او معنوی او اخلاقی شتمنیوته زیان رسوی. همدارنګه د مطبوعاتو د

قانون له مخې د ورځپاڼې ، چاپي ماشينونو او د بريښنايي خپرونو او کمپنيو مالکان بايد د اطلاعاتو ا و کلتورد وزارت جوازنامې ولري.

هغه ابهام چې ددې مسلې په شاوخواکې موجوددې چې توهينوونکې اوځوروونکې مواد کوم دي، هغه ددې سبب شوېدى چې د خبرياالانو خلاف دتيرى او د مطبوعاتو د آزادئ خلاف محدوديتونه منځته راولي او خبرياالان تهديد کړي. دغه قانون په هغو غيراسلامي او خارجي مطبوعاتو باندې هم تطبيق کيږي چې خاوندان يې بهرنيان دي. د مطبوعاتواصلاح شوى قانون د افغانستان ملي راډيو او تلويزيون اوسرکاري مطبوعاتو ته هدايت کوي چې داسې متوازنې خپرونې وکړي چې په هغو کې په هيواد کې د ټولو نژادونو او قومونو ديني عقايد، کلتور، او ژبه په نظر کې نيول شوي وي. د دغه قانون له مخې دافغانستان راډيو او تلويزيون په دې مکلف و خپل پروگرامونه داسلامي اصولوپه رڼا کې برابرکړي او ملي او معنوي ارزښتونه پکې په نظر کې وساتي.

دعلماو شورى پوره ډله سني او شيعه او صوفي دانشمندان ، امامان او اسلامي فقها دي چې له ټول هيواد نه راټول کړى شوېدي؛ او د ايالتي علماو د شورى د جوړښت ځرگندونه کوي. ددغې شورى معتبر غړي په منظمه توگه له جمهوررئيس سره مجلسونه کوي او هغه ته د اسلام د اخلاقي ، روحي او قانوني ستونزو په باب توصيه او مشورى ورکوي. دغه شورى تش په نامه باندې له حکومت نه استقلال لري. خو د شورى غړي له دولت نه مالي مرستې ترلاسه کوي. دغه شورى له جمهوررئيس، د جمهوري رياست قصر، پارلمان او وزارتونوسره د خپلو اړيکو او مجالسو په ترڅ کې، د نويو قوانينو د جوړيدلو يا د موجودو قوانينو دعملي کيدلو په ځرنگوالي خبريږي او سلا مشورى ورسره کيږي. که څه هم دولايتونو په مراکزو کې دهغوى نماينډگي په ښه توگه شويده خو دا شورى کلېو او نورو لېرو سيمو کې نماينډگي نلري.

په ۲۰۰۷ م کال کې د علماو شورى د بيان اومطبوعاتو د آزادئ په برخه کې دمحدوديتونو لپاره غږ وکړ. شورى توصيه وکړله چې اشخاص دي له داسې اعمالونه ډډه وکړي چې ښايي هغه ځايي دودونو او مذهبي ارزښتونو ته توهين اميزه وگڼل شي. په دې کې دا دليل وړاندى شوى چې موږ خپل ملي وقار او اسلامي ارزښتونه ساتواو دا دهر افغان تبعه مسووليت دى. په دغه اعلاميه کې داساسي قانون اوله ماده ځرگنده شوېده. په ډيرو غټو دعوو کې لکه د پرويزکامبخش، په برخه کې عملي شويده؛ هغه په دې دليلې په۲۰ کاله بند محکوم شو چې داسې موادېي په انټرنيټ کې خپاره کړى وو چې په اسلام کې يې د ښځو د وضع په با ب پوښتنې مطرح کولې. جمهوررئيس کرزى کامبخش په ۲۰۰۹ م کال کې وبانبه. ډير افغانانو د مشرانو د جرگې په شمول دهغه عفو وغندله خو نړيوالې ټولنې په ټينگه د هغه ملاتړ وکړ.

دافغانستان د بشري حقوقو مستقل کوميسيون د ديني آزاديو د غټو پيښو څارنه او کتنه کوي، د عامو خلکو دشکايتونو په باب تحقيقات هم کوي. د دغه ريوټ په وخت کې دټولو ولايتونو پوليسانو او دبشري حقوقو مامورانو ته هدايت وشو چې د ټولوبشرى سرغړونو په باب تحقيقات وکړي که څه هم د دولت دنورو موسساتوپه څير داهم په کافي اندازه پرسونل او منابع نلري.

د حج او اوقاف وزارت ، يوازينې وزارت دى چې داسلامي چارو مواظبت کوي. ددغه وزارت په مسؤليتونو کې حج ته خلکو ليږل، داعانو ټولول، دوقف شويو ملکيتونو تشخيص، ماشومانو ته د دين تعليم ، د فتوى گانو صادرول، دامامانو ازمويل، او دديني ستونزو په برخه کې د خلکو خبرول او پوهول شامل دي. شيعه اوسني دواړه طبقې اجازه لري چې حج ته ولاړشي. حکومت دهرى ډلې لپاره شميړ ټاکي. په ۲۰۰۹ م کال کې تقريبا ۳۰زره اتباع حج ته ولاړل. دهغوى په ټاکلوکې دلاتري له سيستم نه کاراخيستل شوى و.

دديني ډلو ثبت نام او جواز لپاره قانوني مکلفيت نشته ده. که څه هم حکومت ملايان ثبت نام کړيدي. هغه ملايان چې د حج اواوقافو دوزارت لپاره کار کوي هغوى په عام ډول دځايي خلکو له خوا پيشنهاد کيږي او وزارت يې منظوروي. دپوه اټکل له مخې په دغه هيواد کې ۱٦۰ زره ملايان کارکوي. په دې کې۳۵۰۰ کسان ثبت نام شويدي او له وزارت نه معاش اخلي. په دې کې ۱۳۸۰ ملايان په کابل کې کار کوي؛ او ددې جملې نه ٦۲۰ تنه له وزارت نه معاش اخلي. داهم په هغو ۳۵۰۰

کسانو کی شامل دی چی په ټول ملک کې معاش اخلي. ډېرملاېان له حکومت سره ثبت نام ندی، ځکه چې په کافي اندازه بودجه نشته ده چې دنورو ملاېانو ملاتړ وشی. نوي جوماتونه د حکومت د انکشافي پلان پر بنا او ېاد خلکو د وړاندېزونو پر بنا جوړېږی. خو بالاخره دحج او اوقافو دوزارت له خوا باېد منظور شی.

دښوونی اوروزنی وزارت دا د حکومت مسؤلېت بولی چې ځوانانو ته معتدل ا و معاصر اسلامی تعلېم ورکړی. د ۲۰۰۷ کال نه په دېخوا حکومت خپلی مدرسی لری، دا ددی لپاره چې دهغو ماشومانو شمېر کم شی چې په بهر کې په افراطی مدرسو کی زده کړه کوی، او دهغو افراطی عناصرو شمېر کم شی چې دهېواد په کلېو اولېری سېموکې فعالېت کوی. په دې کې دهغو مدرسو کسان هم شامل دی چې په مستقله توگه فعالېت کوی. پلان دادی چې دا مدرسی دطالبانو د تعلېم متبادل تعلېم ورکړی، ځکه هغوی له تعلېم نه دترهگری دوسلی په توگه کا راخلی، خو د بودجی کموالی دغه پلانونه شنډ کړېدی.
دښوونی اوروزنی دوزارت له خوا ۴۸ مدرسی په ټول هېواد کې تموېل کېدلی. په دې کې ځودانی په کابل، مزارشرېف، ننگرهار، او دهرات په ولاېتونو کې وې. حکومت په ۲۰۰۷ م او ۲۰۰۸ م کال کې ۱۴ عالی مدرسی تاسېس کړېدی. نېت اوپلان داو چې ېوه عالی مدرسه په هرولاېت کې تاسېس کړی. او د ۳۴ ولاېتونو نه علاوه په ۳۶۴ اولسوالېو کې هم مدرسی تاسېس کړی. دنورو مدرسو دتاسېس دغه پرمختگ، بدامنی، سوکه کړېدی. که چېری دغه پلان عملی شوی وایی نو تقرېبا ۵۰ زره ماشومان به پکې شامل شوی وای. دهغوی په تعلېمی نصاب کی به ۴۰ فېصده دېنی تعلېم او ۴۰فېصده عمومی تعلېم اوتربېه شامله وای. ۲۰ فېصده به کمپېوتر ساېنس او خارجی ژبی پکی شاملی وای.

د ښوونی اوروزنی وزارت مستقلی مدرسی په دی مکلف کړلی چې رسمی جواز واخلی او دخپلومالی مرستومنابع څرگندی کړی. په ۲۰۰۹ مېلادی کال کې ۲۴۰ مستقلی مدرسی په هېواد کې تاسېس شولی. پکارده چې دامدرسی خپلی مالی مرستی له شخصی او یا نړېوالو بسپنه ورکوونکومنابعو نه دحکومت په واسطه ترلاسه کړی اوکه نه نوبندی به شی. دا نظام حکومت ته اجازه ورکوی چې دهغو مرستو څارنه وکړی چې ددوی مشهورانډېوالان ېې ورته برابروی. د ښوونی اوروزنی وزارت وایی حکومت د مدرسو لپاره، دهرډول اسلامی هېوادونو نه دمرستو غوښتنه وکړله. په دې کې افراد او حکومتونه دواړه شامل وو. له سعودی عربستان نه هم دمدرسو د تموېل لپاره دمرستو غوښتنه وشوه.

دښوونی اوروزنی د نظامی اجزا چې د جگړی په دېرشو کلونو کې ژوندي پاتی شول، پردېنی تعلېم باندی ډېر ټېنگار کوی. اساسی قانون وایي : " دولت باېد ېو متحد تعلېمي نصاب چې داسلام د اصولو پر بنسټ، ملی کلتور، اوعلمی اصولو باندی بناشوی وي، منځته راولی؛ ددېنی مضامېنو تعلېمی نصاب دهغواسلامی فرقو پر بنا جوړ کړی چې په افغانستان کی موجودې دي". ددولتی مکتبونو تعلېمی نصاب اسلامی محتوېات لری خو د نورودېنی ډلو تعلېمی محتوېات پکې نشته دی. دموراو پلار له خوا اولاد ته د دېنی زده کړی په ورکولو باندی بندېز نه و. په غېرمسلمانانو باندی دا لازمه نه وه چې اسلام مطالعه کړی. دافغانستان ملی تعلېمی نصاب او تدرېسی کتابونه چې د معتد ل اسلام ښوونه کوي، سوکه سوکه دجهاد تعلېم ځای په ښوونځېو کې نېسی.

د طالبانو پخوانی رژېم، ددېني دلاېلو پر مبنی کوم سېاسی گوند ندی غېر قانونی کړی. اساسی قانون سېاسی گوندونو ته اجازه ورکوی چې خو په دې شرط چې " دهغوی پروگرام او منشور داسلام د سپېڅلی دېن له ا ساساتو سره منافي نه وی".

**په دېنی ازادېو باندې بندېزونه**

حکومت موجوده قانونی بندېزونه په دېنی ازادی باندی، په انتخابی او تبعېضی ډول تطبېق کړل. د ۲۰۱۰ م کال په مې کې دتلوېزېون ېوه خبرپال ېوپروگرام جوړ کړ چې عېسوی غېردولتی موسسات ئی په دې تورن کړل چې خلک عېسوېت ته رابولی. پرهغه وېډېو ېې تکېه کړی وه چې دوه کاله مخکی دعېسوېانو هغه مراسم څرگندوی چې عېسوېت ته اووښتو کسانو ته د تعمېد غسل ورکوی.

ددې په مقابل کې د مالیې وزارت چې دغیر دولتی موسساتو تنظیم مسوولیت لري په موقت ډول یې دوه عیسوی موسسی چې ددغه خبرېال له خوا پری عیسویت ته دخلکو د اړولو تور لګېدلی و بندی کړلی. که څه هم ددې شواهد پیدانشول چې دا دواړه ډلی عیسویت ته اړولو له کار سره تړاولری. د دې ریوټ د لیکلو تر پایه هم د هغوی زیاتره فعالیتونه ځنډول شوی وو. همدارنګه جمهوررئیس امر وکړ چې دکورنیو چارو وزارت، دملی امنیت ریاست او دلوی څارنوال دفتردی د غیردولتی موسساتو په واسطه عیسویت ته داړولو د فعالیتونو په باب تحقیقات وکړی.

ددینی علماو په عمومی تعلیم باندی د بندیزونو په برخه کې معلومات په لاس کې نشته. حکومت هغو ملایانو ته ډیر لږ جیب خرڅ ورکاوه چې په رسمی ډول به ثبت نام شوی وو، خوپوازی کم شمیر  فعال ملایان ثبت نام شویدی، ځکه چې حکومت کی د نومونو د ثبتولو پروګرام په ډیره محدو ده بودجه باندی چلیږی او دماموریتو شمیر یې هم کم دی.

ددینی اقلیتونو لپاره هم چې د عبادت ځایونه تاسیس کړی او یا خپل ملایان وروزي چې ددوی د ټولنی خدمت وکړی، څه صریح او ښکاره  بندیزونه نشته دی. که څه هم د اقلیتونو لپاره دعبادت یو څو ځایونه موجود دی. داحق چې څوک له خپل دین نه واوړي نه په قانون کې محترم ګڼل کیږي او نه په عمل کې. هغه مسلمانان چې عیسویت ته اوړي هغوی د خپل واده د فسخ کیدلو سره مخامخ کیږي، له خپلی کورنی ا و کلی نه د شړل کیدلو، د کاراوظیفې د بایللو له خطر سره هم مخامخ کیږی. د ۲۰۱۰ م کال په مې کې چې دو ه غیردولتی موسسی د عیسویت ته اړولو په ګومان  تعویق شوی، د پارلمان یو شمیرغړو د مرتد شوو کسانو په مقابل کې له خشونت نه ډک ځواب غوښتنه وکړله او چې حتی په عام محضر کې دهغوی اعدامول شامل وو.

په افغانستان کې یونامعلوم شمیر  عیسوی مبلغین موجود وو چې په ډیراحتیاط یې کارکاوه چې له تهدید نه ځان خوندی وساتی. ددی ریوټ په وخت کې یوڅه ریوټونه راغلل چې یو څوکسان په دې هڅه کې وو چې خلک عیسویت ته واړوی خو د دغو پیښو له امله کوم قانونی تعقیب منځته رانغی. د ۲۰۱۰ م په مارچ کې دامریکا  او  هالینډ یویوتبعه، دملی امنیت د اداری له خوا  په د ې ګومان نیول شوي وو  چې عیسویت ته یې خلک اړول خو د یو څو ورځو پوښتنو او تحقیق نه وروسته خوشی شول. یوشمیر  غیردولتی موسسو ریوټ ورکړیدی چې دوی د ملی امنیت د اداری له خوا په مداوم ډول  څارل کیږی، په دې کې، په چاپې موادو پسی د  کورونو لټول او  عیسویت ته داړولو شواهد هم شامل دی. یوشمیرنړیوالی غیردولتی موسسی چې له  دینی موسساتو سره تړاو لری ریوټ ورکوی چې ددوی ماموریتو ته دویزو په ورکولو کې ځنډ پیښیږی.

د کابل پوهنتون،  د ۲۰۱۰ م کال د می له مظاهری نه وروسته چې د غیردولتی موسسو خلاف ئی عیسویت ته دخلکو د اړولو په ضد وکړه؛ د جمهوررئیس کرزي نطاق وحید عمر وویل چې جمهوررئیس د دغو غیردولتی موسسو په قضیه کې د شخصی دلچسپۍ له امله د کورنیو چارو وزارت  دملی امنیت ریاست ته د تحقیقاتو امر وکړ.  وحید عمر په دې تاکید وکړ چې حکومت به په ټینګه عیسویت ته د خلکو داړولو له عمل سره مبارزه وکړی.   تقریبا ۹۰ فیصده خلکو، ریوټ ورکړیدی چې دوی رادیو ته په یونه یو ډول لاسلرنه لري. دراډیوزیات پروګرامونه  په خپلو خپرونو کې دورځی  لږ تر لږه یوساعت پروګرام لری. دقرآن کریم  تلاوت، له دینی علماوسره مرکی، دینی علماو او دینی مشرانو، ثبت شوی پیغامونه هم پکی شامل وي.

دتیرکال په څیر  هندوانو اوسکهانو شکایتونه وکړل چې په دې قادر ندی چې مړی د خپل رواج سره سم وسوزوی؛ په دی کار کی هغه خلک چې له هندوسوزان سره نیژدی پراته دی مداخله کوی. حکومت دهندوانو اوسکهانو دا حقوق چې مړی وسوزي محفوظ کړي ندی. دغی ټولنی څو څو ځلی حکومت ته عریضه کړیده چې داسی زمکه ورکړی چې هتله د مړیو سوزولو رسم ادا کاندی.  بهائیان هم د خپل رسم  اورواج سره سم خپل مړی نشی خاوروته سپارلی.  خو هغوی رسمی شکایت ددی لپاره ندی کړی چې نه غواړي  دحکومت پاملرنه ځانته راجلب کړی. که څه هم ددی ټولنی استازو د زمکو په سر دشخړو په برخه کې ا ندیښنی څرګندی کړیدی؛ خو هغوی اکثراً د خساری داخیستلو مسله محکمی ته نه راجع کوی چې

له انتقام نه وېره ولري؛ په خاصه توگه که د دوی زمکه قوی ځايي مشرانو اخېستی وی. د حکومت له خوانه د هندوانو خلاف د تبعیض معلومدار رپوټونه نشته دی.

حکومت جوماتونو ته وړیا برېښنا برابروی. هندوانو اوسکهانو هم په حکومت کې مطالبه وکړله چې ددوی مندرونو او گوردواروته وړیا برېښنا ورکړل شي؛ خو ددی رپوټ د لیکلیو تر پایه پوری حکومت دهغوی د دې اندېښنی چاره نه وه کړی. پردی سر بېره په مندرونو او گوردواروباندی د تجارتی موسسو په څېر قېمتونه لگول شویدی، په دې توگه د برېښنا لوړه بېه ورکوی. ددېنی کتابونو په واردولو باندی بندېز نشته دی. حکومت په تذکره کې د دېن یادونه نه کوی؛ پر افرادو باندی د ا نه لازموی چې په اسلام باندی خپله عقېده اظهار کړی، دافغانستان تبعه شی. خو دولت او محاکم په دودېز ډول ټول اتباع مسلمانان گڼی. په دې توگه دغېر مسلمان اتباعو حقوق په صراحت ندي ذکرشوي.

**ددېن ازادېو نه ناوړه گټه اخېستل**

چارواکو داسی اقدامات کړېدی چې د بوشمېر وگړو او ډلو له دېنی آزادېونه بې ناوړه استفاده کړېده. د ۲۰۱۰ م کال د جون په درېمه، دوه اتباع په دې تور توقېف شول چې له اسلام نه اوښتی دی. داکار وروسته له هغه وشو چې تلوېزېون د تعمېد دغسل د مراسمو تصویرونه خپاره کړل. ددغه رپوټ د لیکل کیدو تر پایه هم دغه کسان دملی امنیت د اداری له خوا په توقېف کې ساتل کېدل.

د ۲۰۱۰ م کال د مارچ په ۲۰مه ، جمهوررئېس کرزي غوث زلمی او ملاقاري مشتاق وبښل؛ هغوی دواړه په دې گناه شل کاله بندیان شوی و چې قرآن کرېم بې په دری ژبه ترجمه او بی له دېنه چې عربی ورسره وی، چاپ کړی و، عربی معمولا ددې لپاره ورسره وی چې پرتله کېدلی شی. دعلماو د شوری او پارلمان غړي په هغو کسانو کې شامل وو چې جمهوررئېس دېته وهڅوی چې هغوی وبښي. داعمل له هغه کارنه بوبدلون و چې درپوټ د لېکلو په وخت کې دېنی علماوپه محکمه کې ادعاگانی وکړلی چې دا ترجمه غېراسلامی ده، ځکه چې د شرابو او خېرات غوښتلو، لواطت او زنا په مواردو کې راغلي اېتونه بې غلط ترجمه کړېدی. دزلمي اومشتاق معاف دکېدلو فېصلی هغه فېصله چې پرهغوی باندی د ۲۰۰۹ م کال په اگست کې ستری محکمی کړی وی، او د مرافعی محکمی په د ۲۰۰۹ م کال په می کې کړی وه او د ابتدايي محکمی د ۲۰۰۸ م کال د سپتمبر په مباشت کې ټولی فسخ کړلی. دمعافېت له حکم نه وروسته کومه عمومی مظاهره ونشوله. که څه هم په ۲۰۰۷ م کال کې د زلمی اومشتاق خلاف د اعتراض لپاره په هرښار کې مظاهری شوی وی.

د ۲۰۰۹ م کال د اگست په مباشت کې جمهوررئېس کرزي د ملی اونړېوال فشار له امله سېد پروېز کامبخش وبابنه. په ۲۰۰۷ م کال پولېسو کامبخش چې د بلخ په پوهنتون کې شاگرد و او د جهان نو په نامه ورځپانی، خبرېال هم وتوقېف کړی و. پر هغه ادعا شوی وه چې له انټرنېټ نه بې په اسلامی ټولنو کې د ښځو په نقش باندی مواد را اخېستی او خپاره کړی بې وو. په ۲۰۰۸ م کال بوې ځايي محکمی په دې تورچې د اسلام پېغمبرته بې توهېن کړی دی، داسلامی شرېعت پر بنا په مرگ محکوم کړ. کامبخش سمدلاسه مرافعه طلب شو؛ دلوی څارنوال د فتر دغه قضېه د کابل د مرافعی دفتر ته رانقل کړله. د څوورځی د محکمی له اجرأتونه وروسته د ۲۰۰۸ کال د ا کتوبرپه مباشت کې د مرافعی محکمی د تړلو دروازو ترشا دهغه د مرگ سزا په شل کاله بند بدله کړله، خو هغوی په دې کار کې د کامبخش مدافع وکېل ته خبرورکړی نه و. ډېرو اتباعو د مشرانو جرگی دغړېو په شمول دکامبخش ببښنه وغندله . کامبخش مخکی له دېنه چې د معاف کېدلو اوازه بې نړېوالو مطبوعاتوته ورسېږ ی له هېواد نه وتښتېده.

په ۲۰۰۷ م کال کې دارالافتی رباست، چې د ستری محکمی له امر لاندی کار کوی، فتوی ورکړله چې بهایی عقېده له اسلام سره مغاېرت لری او اسلام ته دتوهېن بو ډول دی. ددغه فرمان له صدور نه راوروسته کومه بله قضېه نده پېښه شوی.

**په زوراوجبر دعقېدی نه اړول**

په دی برخه کې چې په زور څوک له عقېدی نه اړول شویدی کوم رپوټ ندی ورکړل شوی.

د یاغیانو او خارجی قواو او تروریستي ډلو له خوانه تیري اوتجاوزونه

دترهګرو ډلو له خوا د خاصو دیني ډلو په نښه کېدلو رپوټونه راغلی دی. په دې کې دالقاعده او طالبانو شبکی شاملی دی. منابع رپوټ ورکوي چې د حکومت ضد عناصرو د دیني مشرانو خلاف خپلو فعالیتونو ته په دې دلیل چې هغوی له حکومت سره تړاولری او یا داسلام تعبیر له دوی نه په مختلف ډول کوي، ادامه ورکړله. دعلماو د شوری له قوله، یاغیانو له 2002 م کال نه را په دې خوا 39 ملایان وژلی دی. په دې برخه کې نوی معلومات نشته چې په ۲۰۰۸ م کال طالبانو په فراه کې هغه مذهبی مشر وواژه چې له لمانځه نه وروسته یې ځان مرګي بریدونه محکوم کړي وو.

د ښوونځیو خلاف بریدونو کې، د طالبانو اصلی انګیزه سیاسی مخالفت و. د ۲۰۰۹م کال د جولای په میاشت کې په لوګر کې دطالبانو یوې بم چونی یو ښوونځي ته نیژدی ۲۵ کسان ووژل، په دې کې ۱۲ تنه شاګردان شامل وو. د ۲۰۰۹ م کال داګست په میاشت کې د AIHRC موسسی ووېل چې هغه دوه ښوونځي چې یو په شینډنډ کې ا وبل په هرات کې ولایت کې د انتخاباتو د حوزو لپاره ترینه کاراخیستل کیده، د طالبانو له خوا وسوزول شول. د ۲۰۰۹ م کال د دیسمبر په میاشت کې طالبانو دبادغیس ولایت د لنګر ښار باندی برید وکړ، دنجونو ښوونځی یې وسوزاوه، دروغتیا یو کتنځای یې چور کړ، او دری پولیسان یې ووژل. دهرات په ولایت کې د معارف مدیر ووېل د ۲۰۱۰ م کال په می کې په ګوزره، شینډنډ، کشکي، رباط سنګی او کهنه ولسوالیو کی ، ښځینه ښوونکو او شاګردانو ته اخطار ورکړل شوی و چې ښوونځي ته ولاړې نشي. د ۲۰۱۰ م کال د می په ۲۸مه کې، طالبانو د خوست په لکن سیمه کې یو ښوونځی وران کړ او دوه نورو ته یې ګواښ وکړ . هغوی غوښتنه وکړله چې مخکی له دینه چې دوی ښوونځیو ته د خلاصیدلو اجازه ورکړی، یوشمیر بندیان دې خلاص شی . یاغیانو برید وکړ او د زکو خیلو ښوونځی یې تقریبا وران کړ، دایوه لویه پروژه وه چې د CARE دنړیوالی موسسی له خوا، ددغه ښځوونځي د جوړولو لپاره پیل شوی وه. یاغیانو د خوست ولایت په دوه نورو ښوونځیو کې لیکونه پریښودل او شاګردانو ته یې ګواښ وکړ چې ښوونځي ته ولاړنشي. هغوی دمې په ۲۹ مه شاګردان له مکتب نه ستانه کړل.

ددیني ازادیوپه برخه کې انکشافات اومثبت پرمختګونه :

حکومت دېته ادامه ورکړله چې د قومي او مختلفو عقایدو خلکو ترمنځ پخلاینی ته په غیرمستقیم ډول د قضائیه ، اساسی قانون، بشری حقوقو د ادارو له لاری ادامه ورکړی. په دغو ادارو کې دمختلفو قومي او مذهبی فرقو لکه سنی او شیعه خلک شامل دی. د ښځو د چارو وزارت او دحج اواسلامی چارو وزارت په ګډه په دې برخه کې کار کوي چې ښځو ته دا فرصت برابر کړي چې جومات ته ولاړې شي. په کابل کې خارجی شاګردانو په منظمه توګه د عیسویانو په عبادتځایونو کې چې په شخصی ځایونو کې واقع دي ملاقات کاوه. بودایي مذهبه خارجیانوته ازادی وه چې د هندوانو په معابدو کې عبادت وکړی. حکومت د سکهانو، اوهندوانو شاګردانو ته د ښوونځیو لپاره، دغزنی په ولایت کې ډیره کمه بودجه برابره کړی وه. د ۲۰۱۰ م کال د مارچ په میاشت کې حکومت په کابل کې د سکهانو لپاره دوه معلمان مقرر کړل، چې دری او پښتو ژبې ورته تدریس کړی؛ خوحکومت دا پلان نه درلود چې د نورو مضامینو د تدریس لپاره ورته اقدام وکړی. یوشمیر سکهان دسکهانو له ښوونځیو نه دومره لیری اوسیدل چې ښوونځي ته نشوای راتللی.

هندوانو او سکهانو رپوټ ورکړچې دوی نور حکومتي وظایفو ته درخواست نه ورکوی، ځکه چې پخوا ورسره ډیر توپیری سلوک شوی و. یوتن سکهه تر اوسه د پارلمان د مشرانو په جرګه کې خپل کار ته ا دامه ورکوی. هندوانو ا و سکهانو داسی هڅې وکړلی چې دوی هریوې ډلی ته یو ه یوه چوکی په پارلمان کې ورکړل شی. هغوی استدلال کاوه چې د کوچیانو لپاره لس چوکۍ اختصاص شویدی نو پکارده چې دوی ته هم په پارلمان کې نمایندګی ورکړل شي.

**دریم څپرکی III. ددینی آزادیو لپاره دتولنیز درناوي حالت :**

داسلام د مختلفو څانګو د پیروانو ترمنځ اړیکی څه ناڅه ترینګلی پاتی وې. په تاریخی توګه د شیعه ګانو له لږکیوسره، داهل سنت د پیروانو له خوا دمور مېری سلوک شوېدی. خو له کوم وخت راهیسی چې د اهل تشییع نماېندګی په حکومت کې زیاته شوېده د اهل سنت له خوا د اهل تشییع خلاف څرګند تبعیض کم شوېدی. داهل سنت د پیروانو له خوا کرکه اوتنفر په حکومت کې د شیعه ګانو د زیاتېدونکي نفوذ په مقابل کې په پراخه توګه څرګند شوېدی او اکثرا هغوی دا داېران هڅی بولي چې غواړي په ځایي کلتور اوسیاست باندی، اغېزې وکړي.

زیاتره شیعه ګان د هزاره قوم غړي دي. هغوی په دودیز ډول له نورې تولنی نه دیو څو دلایلو په سبب چې سیاست، قومیت، او مذهب پکی شامل و، جلا کړی شوي وو، په دې منځ کې یوڅه دلایل د شخړو او دېښمنیو سبب شول. هزاره ګانو پر حکومت تور ولګاوه چې له پښتنو سره امتیازی سلوک کوي او د تولنی نور لږکي په ځانګړې توګه هزاره ګان له نظره غورزوی. حکومت ډیر هڅی وکړې چې ددغی تاریخی نابرابرۍ چې د هزاره ګانو پر تولنه ناوړه اغېزه کوي، چاره وکړی. که څه هم د غېر رسمی تبعیض رپوټونه موجود وو اوله هغوی سره سلوک هم د ځاې په تناسب توپیردرلود؛ خو په عمومی ډول شیعه ګانو دا ازادی لرله چې په عام ډول په تولنیز ژوند کې برخه واخلی. اوس په پارلمان کې درې اسمعیلیان خدمت کوی؛ داسمعیلی تولنی خلکو شکایت درلود چې په سیاسی ژوند کې دوی څنډی ته تېل وهل شوېدی.

غېراسلامی اقلیتونه لکه سکهان ، هندوان او عیسویان اوس هم له تولنیز تعصب او تهدید سره مخ دي؛ په ځینو مواردوکې له تاو تریخوالی او سوک څپیړې هم سره مخامخ کېږی. له هغوی سره دغه ډول چلند د نظام او سیستم له خوا نه کېده، خو حکومت په دې برخه کې څه ونه کول چې ددی رپوټ د لیکلو تر وخته دهغوی حالات ښه کاندی. دعامو خلکو نظریات په ښکاره دهغو افغانانو خلاف له دېښمنی نه ډک وو چې عیسویت ته اووښتي وو. په دې کې خلک ددې خلاف هم ووچې دعیسوی موسسو او وګړو له خوا خلک دین نه واړول شی. عمومی مظاهری په څوولایتونو کې وروسته له هغه وشوی چې د پارلمان دغړو او راډیویا تلویزیون له خوا پاروونکې وېناګانی او پروګرامونه وشول. په یوه مظاهره کی د XVI - پاپ بېنډېکټ جوړه شوی څیره وسوزول شوه. په یوه بله مظاهره کی غوښتنه وشوله چې تولی کلیساګانی دی وسوزول شی که څه هم په افغانستان کې یوه کلیسا هم په ازاده توګه وجود نلری.

په مزارشریف کې زرتنو په یوه لاریون کې برخه واخیستله او غوښتنه یې وکړله چې هغه موسسی چې خلک له دین نه اړوي هغه دې بندی کړی شی. یوې غېردولتی موسسی چې له عیسویت سره یې تړاو درلود، هغه وخت خپل دفتر له لاسه ورکړ چې ګاونډیانو د زمکی له خاوند نه خواهش وکړ چې له خپل کورنه یې وباسی.

هندوان چې په افغانستان کې له سکهانو نه لږ پیژند ل کېږی ( هغوی خاصی پګړی نلري) له لږ تهدید اوګواښ سره مخ دی.که څه هم دواړو ډلو رپوټ ورکړېدی چې دخپلو ګاونډیانو له اذیت او ازار سره په خپل ګاونډ کې مخ دی. سکهان او هندوان دا اجازه لری چې خپل د ېنی مراسم په ښکاره باندی اجراکاندی؛ رپوټونه وایی چې هغوی هم دمور مېری له سلوک سره مخ دی، په دې کې ببرول او ګواښ شامل دي. همداکار ددی سبب شو چې ۳۰ کورنی د دی رپوټ په وخت کې له هیوادنه ولاړې شی. که څه هم هندوان اوسکهان کولی شی چې دتیریو په برخه کې دعوه وکړي او دزمکی او جاېداد خاصی محکمی ته ورشی خو په عمل کې هغوی ځان خوندی نه ګڼی .

ډیرسکهان او هندوان خپل ماشومان عامو مکتبونو ته ددې لپاره نه لېږی ځکه چې دنورو شاګردانو له خوانه له هغوی سره تیری او زیاتی کېږي. په تیرو کلونو کې هندوانو اوسکهانو خپل ماشومان دهندوانو اوسکهانو شخصی ښوونځیو ته لیږل، خو هغه ښوونځي د تولنی د مخ په زوال اقتصادی شرایطو له امله بند شوېدی. ډیرې کورنی د شخصی مکتبونو لګښت نشی ورکولی. دغزنی په ولایت کې د سکهانو د ماشومانو لپاره، یو ښوونځی شته دی. یوبه هېلمند کې دی. او د ۲۰۱۰ م کال د

مارچ دمیاشتی راهیسی بو په کابل کې جوړ شوېدی، خو پوازې دری اوپښتو درس ورکوی. سکهانو په ننګرهار کې هم دېوه ښوونځي غوښتنه وکړله . حکومت پوښوونځی هلته ددی رپوټ د لیکلو په وخت کې جوړ کړېدی. دسکهانو بو ځوماشومانو په نړېوالوشخصی مکتبونو کې هم درس لوستلو. په هېواد کې عېسوی ښوونځی نه و. درپوټ د لیکلو په وخت کې دهندوانو ماشومانو په کابل کې ښوونځی نه درلود. حکومت په دې برخه کې کم ګامونه اوچت کړېدی چې داماشومان خوندی وساتی او د ټولګي په چاپېرېال کې هغوی له نورو ماشومانو سره بو ځای سبق ووېلی شی.

ځایی دېنی چارواکي، له ښځو سره خپل مخالفت ته، دهغوی د جامو او خوی او عادت له امله ادامه ورکوی. په کلېوالی سېموکې زېاتره ښځی چادرې په سر کوی. د طالبانو د راپرزېدلو نه وروسته ، په ښارونو کې ډېرې ښځې اوس چادری نه په سر کوی. خو تقرېبا ټولی ښځې بوډول پړونی او ټېکری یا په خپله خوښه په سرکوي او بایې د ټولنی د فشارله امله په سرکوی.

**ځلورم ځپرکی - .IV دامرېکا د حکومت پالېسي :**

دامرېکا حکومت ددېن دازادی په برخه کې د حکومت له چارواکو سره، په دې خاطر بحثونه کوی، چی د خپلې عمومی پالېسی پربناد بشري حقوقو مسله پرمخ بوزي. دامرېکا استازي په منظمه توګه د حکومت له چارواکو، دېنی او لړکېو د مشرانو سره ملاقاتونه کوي چې د سیاسی ، قانونی، دېنی اوبشري حقوقو په مسله ورسره خبرو ته ادامه ورکړی چې ددوی دهېواد د بیارغونی په بهېر کې داشېان داخل کړی شی. دامرېکا حکومت له مدني ټولنې سره کار وکړ چی مذهبی تحمل پر مخ ولاړشی.

دامرېکا سفارت په فعال ډول د ځایي خلکو او امرېکا ترمنځ د مسلکي او کلتوري اړیکو په ز یاتولوکې ګامونه ا وچت کړېدی. دامرېکا د سفارت دعامه اړېکو څانګې د تګ راتګ رنګارنګ پروګرامونه جوړ کړېدی چې په هغو کې وېناوال او هنرمندان، تلی راتلی شی او دمعلوماتو داسی پروګرامونه پکې شامل دی چې دامرېکا یانو او ځایي خلکو ترمنځ ددېموکراسی او مدني ټولنی د نقش، انسانی حقوقو، اسلام په امرېکا کې اونورو مضامېنو په سر د افکارو د تبادلې شرایط برابر شی. دامرېکا متحده ایالاتو د ځایي خبرېالانو، عالمانو، سیاستپوهانو، حکومتی چارواکو، مذهبی علماو اود ټولنی د مشرانو، ښځو، ځوانانو او غېردولتی موسسو دچارواکو، د سفر لګښتونه تموېل کړېدي چې په ا مرېکا له خپلو انډولو خلکو سره په خبرو اترو، بحثونو او نورو کلتوری شیانو په تبادله کې برخه واخلي.

د ۲۰۰۹ مېلادي کال داکتوبر په مېاشت کې دامرېکا سفارت د دری تنو دېنی عالمانو د سفر لګښت ورکړ چې هغوی امرېکا ته ولاړشی او په هغه پروګرام کې برخه واخلی چې نوم یې ( دېن په امرېکا کې ) دی. دامرېکا سفارت څو تنه دېنی عالمان د ۲۰۱۰ مالی کال او ۲۰۱۱ م مالی کال لپاره ټاکلی دی چې په دنړېوالو ملاقات کوونکو د مشرتابه په پروګرام کې برخه واخلی.

د سفېرانو، مالی صندوق چې د کلتور د خوندی ساتنی لپاره جوړ شوېدی، سفارت د دېنی ودانېو بیا رغونه تموېل کړله. په دی کې د نهمی پېړۍ جومات - دنو ګنبد په تارېخی ساحه کې – شامل دی. دا ودانی په ټوله اسلامی نړۍ کې ترټولو لرغونی ودانی ده او دعباسیانو دوخت د معمارۍ ډېره په زړه پورې نمونه ده. ددې رپوټ په اخروخت کې په نوګنبد کې ددغی ودانی بیا رغونه روانه وه. د پې آرټی ډلو دامرېکا د پوځ د سېرپ- CERP د بودجی له لاری بوشمېر ځایي ټولنو ته مالی مرستی برابری کړلی چې هغوی پرې مدرسې ترمېم کړي. د راپور د جوړولو په وخت کې دامرېکا پوځ د شپږو مدرسو او نامعلوم شمېر جوماتونو دترمېم ، وسایلو او لوازمو، اونورو ضرورېاتو لپاره مرستی برابری کړلی. په جوماتونو کې د مزارشرېف شین جومات هم شامل دی.

دعامه چارو له خوانه هم مرسته وشوله چي د علیا تاریخی مدرسه په کابل کي له سره نوی کړي.

دامریکا حکومت له مدني ټولنی او تنظیمونو سره کار وکړ چي په خلکو کي دنورو مذاهبو د پیروانو په وړاندی د زغم لپاره کار وکړی. ددغه ریپوټ په وخت کي د امریکا حکومت د راډیو د پروګرامونو لپاره مرستي برابری کړی، او په هغو کي ددیني مشرانو، انتخاب شویو چاروکو او د ټولنی ځایی مشرانو لپاره دروزنی لپاره پروګرامونه شامل کړل چي هغوی دانسان او ښځو په حقوقو باندی د اسلام له نظره پوه شی. دا پروګرامونه د یوي غیردولتي موسسی له خوا چه ایکول اکسیس Equal Access نومیږی تمویل کیدل او ددغه ریپوټ د لیکلو په وخت کي ډیر ځایی مشران پکی وروزل شول. دامریکا حکومت د ۱۴ عمومی مجلسونو د مصرف لپاره هم پیسی برابري کړلی چي په هغو کي تقریبا ۶۰۰ کسانو برخه اخیستی وه. پردی سر بیره شپږ متحرک ننداراځیونه وو چي هنرمندانو پکي خپل هنر ښکاره کاوه؛ دهغوی د لیدونکو شمیر تقریبا دوه زرو ته ورسیده.

د امریکا د نړیوال انکشاف – یواېس ای آی ډی – د اداری له خوا دهغو ابتکارونو ملاتړ وشو چي دافغانستان له مدنی ټولنی سره مرسته وکړی. هغوی له افغانستان سره همکاری کوی چي په یوه پروژه کي اسلامی مشران چي دعامه ذهنیت په روښانولوکي نقش لری، دخیل کړی. له افغانستان سره دهمکاری دغی موسسی له علماو سره د ګردي میز اته پروګرامونه ( څلور په کابل ، دوه په هرات ، یوپه بلخ اویو په ننګرهار کي ) جوړکړل. په دغو پروګرامونو کي 66 کسانو برخه اخیستی وه چي په دي کي 58 تنه علما او نهه تنه ښځي او اته تنه د مدنی ټولنی غړي وو.

ددغو ګردیو میزونو د جوړولو هدف داو چي له علماو سره خبری اتری پیل شی او داسلام له نظره دهغوی تصور د مدنی ټولنی اودیموکراسی په هکله معلوم کړی شی. بل مقصد داو چي دهغوی نظر د عامو خلکو له خوا دهغه ناسم تصور او شک په باب معلوم کړی شی چي هغوی یي د مدنی ټولنی په برخه کي لري. له هغوی نه رایي وغوښتل شی چي ددغه راز منفی نظریاتو د له منځه وړلولپاره څه وشی. یوریپوټ چي " علما افغان مدنی ټولنی ته په کوم نظرګوري " په ۲۰۱۰ میلادی کي چاپ شو.

پـــــــــای